## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**23جدی _سال 1402**

خبرنامه





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**د پاکستان د جمعیت علماء اسلام ګوند مشر او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر سره ولیدل------1**

**خلیل‌الرحمن حقانی به مولانا فضل‌الرحمن: برگشت مهاجران افغان داوطلبانه باشد ----------------------------------2**

**۱۴ خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد --------------------------------------------------------------------------3**

**سمنګان ولایت کې له سلګونو کورنیو سره مرسته وشوه ---------------------------------------------------------4**

**صد ها  مهاجر طور جبری ازپاکستان برگشت نمود ------------------------------------------------------------4**

**په بلخ ولایت کې له ۱۰۰ کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه ----------------------------------------------4**

**بیش از صد خانواده، در ولایت ارزگان کمک شد-----------------------------------------------------------------5**

**له پاکستان څخه په سلګونو جبري راستنېدونکو کورنیو د هېواد په پولو کې د اړوند ټاکل شویو کمېټو له خدمتونو څخه ګټه واخیسته 6**

**۱۱۰ خانواده، در ولایت خوست از کمک  و سایل برق آفتابی بهره مند شدند----------------------------------------7**

**د پاکستان څخه په سلګونو مهاجر راستانه شول-----------------------------------------------------------------8**

**د کډوالۍ مخنیوی: په انګلیس کانال کې نوي خنډونه-----------------------------------------------------------9**

**برېتانیا: د بې سرحده ډاکټرانو سازمان پخواني پوځي اډه کې له کډوالو سره روغتیایي مرستې کوي-----------------10**

**سړه هوا: کالي ښار کې کډوالو ته بېړنۍ سرپناوې پرانیستل شوې-----------------------------------------------13**

**میرویس عزیزی تاجر ملی: ده میلیارد دالر در افغانستان سرمایه‌گذاری می‌کنیم-----------------------------------14**

# متن کامل اخبار

## د پاکستان د جمعیت علماء اسلام گوند مشر او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو چارو له سرپرست وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



**د پاکستان د جمعیت علماء اسلام گوند مشر مولانا فضل الرحمن او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني او د هغه له مرستیالانو سره نن په کابل کې ولیدل**
**په ناسته کې په پاکستان کې د مهاجرینو په ستونزو خبرې وشوې**
**د مهاجرینو چارو سرپرست نوموړي ته له ښه راغلاست وروسته وویل، په افغانستان د بهرنیو یرغلونو او جگړو له امله د افغانستان پاکستان دواړه ولسونه زیانمن شوي، پاکستاني ولس له ٤٠ کالو زیات د افغانانو کوربه توب کړی مونږ یې منندوی یو، دغه میلمه پالنه باید اوس په اوبو لاهو نشي او مهاجرینو ته وخت ورکړل شي، ترڅو په خپله خوښه او تدریجي توگه هېواد ته راستانه شي**
**مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد افغانستان ته د نوموړي راتگ یو نیک اقدام او د دواړو هېوادونو په گټه وباله او له پاکستاني علماو یې وغوښتل، چې د خپل دیني او شرعي مسؤلیت له مخې د مهاجرینو غږ اوچت او په دغه هېواد کې له دوی سره د کېدونکي ناوړه چلند مخه ونیسي**
**په ناسته کې مالي او اداري مرستیال محمد ارسلاح خروټي هم خبرې وکړې، نوموړي وویل، تېر څه باندې ٤٠ کاله مهاجرینو په پاکستان کې د خپل هېواد په څېر وخت تېر کړی او هیچا ته یې زیان نه ده رسولی، هیله مند یو چې په پای کې هم افغانان په خوښه او ښو خاطرو سره افغانستان ته راستانه شي**

**ښاغلي مولانا فضل الرحمن وویل، زمونږ افغانستان ته د راتلو هدف هم دا دی، چې په ستونزو وغږیږو او د حل لپاره یې په ګډه هڅې وکړو، نوموړي وویل، د مهاجرینو په زوره ویستلو سره ددوی انساني حقونه هم تر پښو لاندې کیږي، په دې هکله مونږ پخوا هم غږ پورته کړی او اوس مو هم هڅې کړي دي، نوموړي وویل په دغه موضوع کې مونږ د اسلامي امارت سره پوره همغږي او ملاتړي یو**

## خلیل‌الرحمن حقانی به مولانا فضل‌الرحمن: برگشت مهاجران افغان داوطلبانه باشد

آریانانیوز

**آقای حقانی در این دیدار افزوده که باید به مهاجران افغان در پاکستان فرصت داده شود تا به گونه‌ی داوطلبانه و تدریجی به کشور برگردند.**



**خلیل‌الرحمن حقانی سرپرست وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان در دیدار با مولانا فضل‌الرحمن رهبر حزب جمعیت علمای پاکستان درباره چالش‌های مهاجران افغان در پاکستان گفت‌وگو کرده است.**

**آقای حقانی در این دیدار افزوده که باید به مهاجران افغان در پاکستان فرصت داده شود تا به گونه‌ی داوطلبانه و تدریجی به کشور برگردند.**

**وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان در خبرنامه‌ای گفته است: «سرپرست وزارت مهاجرین و عودت‌کنندگان در دیدار با رهبر جمعیت علمای اسلام پاکستان به همکاری با مهاجران تاکید کرده و گفته است که باید به مهاجران افغان در پاکستان فرصت داده شود تا به گونه‌ی داوطلبانه و تدریجی به کشور برگردند«.**

به گفته‌ی وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان رهبر حزب جمعیت علمای پاکستان نیز در این دیدار با انتقاد از روند اخراج مهاجران از پاکستان گفته که در این روند حقوق انسانی مهاجران زیر پا می‌شود.

ملک شینواری مهاجر به طلوع‌نیوز گفت: «از حکومت پاکستان خواست ما این است که ما و شما از همدیگر جدا شده نمی‌توانیم و شما هم از نزدیک با یکدیگر بنشینین روی یک میز و اختلافات سیاسی را از نزدیک حل کنید».

در همین حال، برخی از فعالان عرصه حقوق مهاجران می‌گویند که نیاز است تا امارت اسلامی درباره مهاجران در کشورهای همسایه اقداماتی را روی دست گیرد تا به چالش‌های مهاجران به گونه‌ی بهتر رسیدگی شود.

مسلیم ستانکزی فعال عرصه مهاجران گفت: «در قبال پروسه مهاجرین افغان ساکن در درون کشور پاکستان مقامات کشورها باید به عنوان یک برنامه‌ی بلندمدت نسبت به پروسه‌ی مهاجرین بنگرد و آن‌ها را مورد حمایت‌های لازم خویش قرار دهند تا از بروز هرگونه موانع و حوادث در قبال مهاجرین جلوگیری به عمل آید».

پیش از این نیز سرپرست وزارت مهاجران و عودت‌کنندگان در دیدار با مقام‌های سازمان ملل متحد بر حل مشکلات مهاجران افغان در کشورهای دیگر تاکید کرده بود.

## ۱۴ خانواده در ولایت ننگرهار، کمک شد

ویب سایت وزارت



برای ۱۴ خانواده، در ولایت ننگرهار کمک نقدی بتاریخ ۲۰ جدی توزیع شد.

خانواده ها شامل عودت کننده و آسیب پذیر بوده که قبلاً از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت، مورد شناسایی قرار گرفته بودند.

برای هرخانواده مبلغ ۲۰ هزار و ۷۰۰ افغانی از جانب شورای مهاجرت ناروی بود که بانظارت ریاست مهاجرین توزیع شد.

## سمنګان ولایت کې له سلګونو کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت

په سمنګان ولایت کې د مرغومې پر ۲۰ مه پر ۳۷۸ کورنیو نغدي مرسته وویشل شوه.

دغه کورنۍ پخوا دمهاجرینو ریاست له خوا اړمنې پیژندل شوې وې، چې په دوو برخو کې یې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ له لوري د ۱۳۰۰ زره او ۷۰۰ او۱۸ زره او ۷۶۰ افغانۍ مرسته ورسره وشوه.

د یو بل خبر له مخې، د سمنګان ولایت په مرکز کې پر ۶۰ راستنېدونکو او بېځایه شوو مېرمنو چې په حرفوي زده کړو بوختې دي، د مهاجرت نړیوال سازمان له خوا د ۷ زره او ۸۰۰ افغانیو نغدي مرسته ووېشل شوه.

## صد ها مهاجر طور جبری ازپاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۴۳۷ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲۰ جدی از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس گزارش آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ، ۴۹ خانواده شامل ۲۳۱ تن از مرز یاد شده طور جبری به و طن عودت نمودند، و پس از ثبت امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۳۵ خانواده که شامل ۲۰۶ تن بودند، طور جبری از آن طریق به کشور برگشت نمودند و پس ازثبت امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

برای هر خانواده مبلغ 10 هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

## په بلخ ولایت کې له ۱۰۰ کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د مرغومې میاشتې په ۲۱مه نیټه په بلخ ولایت کې له پاکستان څخه په جبري توګه په ۱۰۰ راستنو شویو کورنیو باندې خوراکي توکي وویشل شول.

یاد مرسته شوي ۶ قلمه خوراکي توکي د بلخ ولایت د ۲۰۹ الفتح قول اردو له لوري او د مهاجرینو او راستنېدونکو ریاست تر څارنې لاندې د راستنېدونکو په موقتي کمپ کې اړمنو ته ووېشل شول.

## بیش از صد خانواده، در ولایت ارزگان کمک شد

ویب سایت وزارت




**به اساس گزارش آمریت امور مهاجرین ولایت ارزگان، کمک نقدی و غیر خوراکی برای ۱۲۳ خانواده در آن ولایت، بتاریخ ۲۱ جدی توزیع شد.**

**خانواده های یاد شده شامل بیجاشده، آسیب پذیر و عودت کننده ولسوالی های ارزگان خاص و چوره آن ولایت بوده که از جانب امور مهاجرین قبلاً مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**هرخانواده مبلغ ۱۳ هزار و ۸۵۰ افغانی، ۳ تخته کمپل و یک بسته پوشاک زمستانی مساعدت سازمان بین المللی مهاجرت را در یافت نمودند.**

## له پاکستان څخه په سلګونو جبري راستنېدونکو کورنیو د هېواد په پولو کې د اړوند تاکل شویو کمېټو له خدمتونو څخه ګټه واخیسته

د وزارت ویب سایت

**د هېواد په پولو کې د جبري راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه د عالي کمېسیون د دارالانشا د راپور له مخې، د ننګرهار، کندهار، نیمروز، هرات، کابل او پکتیا ولایتونو په پولو کې له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو ۴۰۰ کورنۍ ، د مرغومي میاشتي په 19 مه نیټه د تاکل شویو کمېټو له خدماتو څخه برخمنې شوې.**

**د ننګرهار ولایت د تورخم له پولې څخه ۴۹ کورنۍ، چې ۱۱۰ تنه کېږي راستنې شوې او د استقبالیه د کمېټې له لوري ثبت او بایومتریک شوې دي.**

**۴۵ کورنیو ته د لس زره افغانیو نغدي مرسته ورکړل شوې. ۱۹ کورنۍ، چې ۹۸ تنه کېږي ننګرهار، کنړ، لغمان او کابل ولایتونو ته انتقال شوې او ۴۱ زره ۵۰۰ افغانۍ د ترانسپورټ لپاره ورکړل شوې دي.**

**۲۵ کورنۍ په موقتي کیمپ کې ځای پر ځای شوې او ۵۰۰ خوراکي بستې ورته چمتو شوې،۷۵ زره لیتره پاکې اوبه، کمپلې د کوټې فرش اوړ د ګازو بالون، ۴۴ بستې خام خوراکي توکي او ۱۴۱ سیم کارتونه په عمري کیمپ ورته توزیع شوې دي.**

**همدا ډول ۵۵ تنه، چې مسلکي او حرفوي اسناد یې درلودل پېژندل شوي او د اړوند کمېټې له لوري ثبت شوي دي.**

۱۲۷ ماشومانو ته د چاودېدونکو توکو، پاکوالي، ساتنې په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی او د ذهني روغتیا په موخه دوی ته د لوبو او تفریحي پروګرامونه هم ورکړل شوي دي.

د اطلاعاتو او عامه پوهاوي کمېټې مهاجرینو ته د نوم لیکنې، انتقال، مالي مرستو، لنډ مهاله استوګنې او د هېواد د پېژندنې، اسلامي نظام، هجرت، صبر او تعلیم په اړه ګټور معلومات وړاندې کړل.

راستنېدونکو ته د ننګرهار ولایت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر محتسبینو د بېلا بېلو مواردو په اړه معلومات ورکړل شول او دمهاجرت نړیوال سازمان سره په هماهنګې ۲۰ دانې د مهاجرت فورمې ووېشل شوې.

دغه راز د کندهار ولایت د سپین بولدک د ډیورنډ فرضي کرښې څخه د ۳۶ کورنۍ، چې ۲۱۲ تنه کیږي راستنې شوې او ثبت شوې دي، هرې کورنۍ ته ۱۰ زره افغانۍ نغدي مرسته ورکړل شوې، ۵۲ کورنۍ په موقتي کمپونو کې ځای پر ځای شوې، د خوراکي او څښاک اوبو ۷۰۰ بستې ورته توزیع شوې، ۳۲۲ کسان تر معالجې لاندې نیول شوي، ۴۶۳ کسانو ته د روغتیا په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی، ۳۹۰ سیم کارتونو ورته توزیع شوي ، ۱۶۵ کسان چې مسلکي او حرفوي اسناد يې درلودل د اړوند کمېټو له لوري پېژندل شوي او ثبت شوي دي.

۴۸ ماشومانو ته د چاودېدونکو توکو، پاکوالي، ساتنې په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی او د دوی د ذهني روغتیا په موخه د لوبو او تفریحي پروګرامونو په اړه هم ورته معلومات ورکړل شول. د پکتیا ولایت په یوه موقتي کمپ کې د یوې کورنۍ درملنه وشوه، ۵۸ بستې خوراکي او د څښاک اوبه په یاد کیمپ کې ورته وویشل شول، د انګور اډې په سرحد کې د ۱۰ کسانو درملنه وشوه او د اطلاعاتو کمیټې له لوري ورته ګټور معلومات ورکړل شول.

په نیمروز ولایت کې ۲۳ کورنۍ، چې ۸۶ تنه کیږي ثبت او ۱۵۲۶ مهاجر راستانه شوي، ۹ کورنیو ته ۱۰ زره افغانۍ ورکړل شوې، ۲۷ کورنۍ په موقتي کمپ کې ځای پر ځای شوې، ۲۳ تنو ته د تذکرو د ویش لړۍ پیل شوې او ۸۶ تنو ته تذکرې ورکړل شوې دي.

دغه راز د هرات ولایت په موقتي کمپ کې ۵۲ کورنۍ ځای پر ځای شوې، ۲٦ کورنۍ، چې د ۷۵ تنه کیږي د انتقال د کمیټې له لوري له کابل ولایت څخه کندز، تخار، خوست ولایتونو ته لیږدول شوي او د لیږد رالیږد په بدل کې ۵۷ زره او ۵۰۰ افغانۍ ورکړل شوې دي.

## ۱۱۰ خانواده، در ولایت خوست از کمک و سایل برق آفتابی بهره مند شدند

ویب سایت وزارت




**برای ۱۱۰ خانواده بیجاشده، برگشت کننده و نیازمند در ولایت خوست، وسایل برق آفتابی ( سولر) به تاریخ ۱۹ جدی توزیع شد.**

**هرخانواده که قبلاً از جانب ریاست امور مهاجرین آن ولایت در ولسوالی صبری شناسایی شده بودند، دوتخته سولر، یک دانه بطری و ۱۰ قلم سایر وسایل آن را که کمک موسسه برک بود در مرکز خوست بدست آوردند.**

## د پاکستان څخه په سلګونو مهاجر راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**د مرغومې میاشتې په ۱۹مه نیټه د تورخم او سپین بولدک له پولو ۴۷۴ افغان مهاجرین هېواد ته راستانه شوي دي.**
**د کندهار ولایت د سپین بولدک د سرحدي امریت د راپور په اساس، له یادې پولې څخه د ۲۱۲ تنو په ګډون ۳۶ کورنۍ او ۷٤ تنه، چې د یاد هیواد له زندانونو څخه خوشې شوي وو، په جبري توګه له یادې پولې څخه بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او د مهاجرینو ریاست له لوري د مرستې په موخه د ثبت وروسته د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر، ملګري ملتونه د خوړو نړیوال سازمان او د مهاجرت نړیوال سازمان ته یې د نورو مرستو لپاره ور معرفي کړي دي.**
**د یادې کمیټې لخوا هرې کورنۍ ته لس زره افغانۍ نغدي مرسته وویشل شوې.**
**د ننګرهار ولایت د تورخم د سرحدي امریت د معلوماتو له مخې، له دغې لارې د ۱۸۸ کسانو په ګډون ۳۸ کورنۍ په زوره هېواد ته راستني شوې دي.**
**د تورخم د سرحدي امر په وینا، دغه راستانه شوي مهاجرین د اړوند کمپټو د ثبت وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو د مهاجرینو چارو کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور پېژندل شوي دي.**
**د یو بل خبر له مخې د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي امر د مرغومې میاشتې په ۱۹مه نیټه د دغه ولایت یو شمېر خیریه موسسو له استازو سره ګډه ناسته وکړه.**
**په دې ناسته کې د تورخم سرحدي امر بخت جمال ګوهر جبري راستنېدونکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د دوی د همکارۍ قدرداني وکړه.**
**دخیریه موسسو استازو د سرحدي امریت د ستونزو په حلولو کې د هماهنګۍ او همکارۍ ستاینه وکړه او خپل راتلونکي پلانونه یې ورسره شریک کړل. یادو مسوولینو دوی ته ډاډ ورکړ، چې د شته فرصتونو او نوښتونو په اساس به خپله کاري ساحه لا نوره هم پراخه**

## د کډوالۍ مخنیوی: په انګلیس کانال کې نوي خنډونه

مهاجرنيوز



د پا دو کالې او سوم قومندانیو د انګلیس کانال په اوتي سیند کې د کډوالو د مخنیوي لپاره نوي خنډونه جوړ کړي دي. چارواکي وایي د دغو خنډونو د جوړولو موخه په کوچنیو کښتیو کې بریتانیا ته د کډوالو د اوښتو مخنیوی دی .

د انګلیس کانال له لارې بریتانیا ته د کډوالو د اوښتو د مخنیوي نوې طریقه. د فرانسې د سوم او پا دو کالې قومدانیو د سه شنبې په ورځ د جنورۍ په ۹مه د انګلیس کانال په اوتي سیند کې نوي خنډونه جوړ کړل چې د دغو دوو شمالي دیپارتمنونو ترمنځ موقعیت لري.


د سوم قومندانۍ په یوه خبرپاڼه کې لیکلي دي: «حکومت شپه او ورځ هڅه کوي چې د هغو قاچاق وړونکو مخه ونیسي چې د کډوالو له مجبورۍ څخه ناوړه ګټه پورته کوي. هدف [مو] مشخص دی: خپلې هڅې روانې ساتو او د [ناقانونه] سمندري سفرونو سره د مبارزې لپاره خپل سیستم کې تل بدلون رامنځته کوو«.

»ټکسي کښتیو» کې سفرونه ډېر شوي

چارواکي وایي غواړي د دغو خنډونو له جوړولو سره د «ټکسي کښتیو» مخه ونیسي. دا هغه کوچنۍ کښتۍ دي چې له سوېلي سواحلو څخه چې کنټرول پکې کم دی اوبو ته دننه کیږي او د کډوالو د سپرولو لپاره د کالې د سواحلو پر لور حرکت کوي. د سمندري قوانینو له مخې پولیس حق نه لري د هغو کښتیو مخه ونیسي چې په اوبو کې دي او خلک غواړي پکې سپاره شي.

**د پولیسو قومنداني دا پدیده «خطرناک او غیرقانوني» بولي او زیاتوي چې په ۲۰۲۳ کې اوتي سمندر کې شاوخوا ۱۲ ټکسي کښتۍ لیدل شوې دي.**

**د پا دو کالې قومندانۍ تېر کال خبرداری ورکړی و چې کډوال ټکسي کښتیو کې د سپرېدو او سفر پر مهال له ډوبېدو، د بدن د تودوخې ټیټېدو او نورو ستونزو سره مخامخ کېدای شي.**




**دا هم ولولئ**
**<u>برېتانیا ته په کښتیو کې د کډوالو سفر د تېر کال په پرتله سږکال کم شوی</u>**

**هغه ساحلونه چې کډوال ترې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي.**
**انځور: کډوال نیوز**

**هر کال د افغانانو په ګډون زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته ورسوي. په ۲۰۲۳ کال کې شاوخوا ۳۰ زره مهاجر په وړو کښتیو کې له فرانسې څخه برېتانیا ته اوښتي چې دا شمېره بیا د ۲۰۲۳۳ کال په پرتله کمې شوې دي. له دغې سمندري لارې بریتانیا د تلونکو کډوالو کچې د ټیټیدو لاملونه د پاریس او لندن ترمنځ د کډوالۍ تړون او له فرانسې سره د برېټانیا مالي مرستې بلل شوې دي.**

**برېتانیا: د بې سرحده داکترانو سازمان پخواني پوځي اډه کې له کډوالو سره روغتیايي مرستې کوي**
**مهاجرنیوز**




**د بې سرحده ډاکټرانو سازمان په روانه اونۍ کې اعلان وکړ چې ویترسفیلډ پخواني پوځي اډه کې پناه غوښتونکو ته روغتیایي اسانتیاوې برابروي. مرستندویه ادارې وایي چې په دغه پنډغالي کې د کډوالو د ژوند شرایط ډېر سخت دي او مهاجر هلته روغتیایي خدماتو ته لاسرسی نه لري.**

**د بې سرحده ډاکټرانو سازمان د جنورۍ په ۹مه اعلان وکړ چې د نړۍ ډاکټرانو په همغږۍ د برېټانیا ویترسفیلډ پوځي اډه کې ګرځند کلینیک جوړ کړی دی. دا سازمان په اصل کې جګړه ځپلو سیمو کې خلکو ته بېړنۍ مرستې رسوي.**

**دمګړی ویترسفیلډ کمپ کې نږدې ۶۵۰ نارینه پناه غوښتونکي اوسېږي چې له ۱۸ څخه تر ۶۵ کلونو پورې عمرونه لري .ډېری دغه کډوال د افغانستان (۲۹ سلنه)، ایران (۲۰ سلنه) او اریتریا (۱۶ سلنه) اتباع دي.**

**د نړۍ ډاکټران او د بې سرحده ډاکټرانو سازمان یاد کمپ کې د کډوالو د ژوند د وضعیت په اړه اندېښنه ښیي او وایي چې ویترسفیلډ پنډغالی زندان ته ورته دی. دوی زیاتوي چې ګرځند کلینیک یې په اونۍ کې درې ځله د کمپ اوسېدونکو ته روغتیایي خدمات برابروي.**

**په دغه کمپ کې یو بل روغتیایي مرکز هم شته چې د برېټانیا د روغتیا ملي ادارې له خوا تمویلېږي او یو ډاکټر او څو نرسان پکې دنده ترسره کوي. خو د بې سرحده ډاکټرانو د یوې <u>خبرپاڼې</u> په خپرولو سره کمپ کې شته روغتیایي خدمتونه ناکافي بولي او وایي چې پناه غوښتونکي هېڅ ډول روحي مرستو ته لاسرسی نه لري.**

**»پرانیستی زندان«**

**دا په داسې حال کې ده چې د هلن بامبر بنسټ او د بشري حقونو شبکې تازه <u>راپور</u> چې د ۲۰۲۳ د ډېسمبر په ۱۵مه خپور شوی ښيي، چې یاد پنډغالي کې د پناه غوښتونکو رواني حالت مخ په خرابېدو دی: یوازیتوب، د وزن بایلل، د اشتها کموالی، ناهیلي، بې خوبي، سترس او...**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**په دغه راپور کې د کډوالو له قوله راغلي دي چې کمپ کې د ۱۰۰ کسانو لپاره یوازې ۴ تشنابونه او ۵ حمامونه شته چې برېښنا پکې نشته. تېره میاشت په دغه پخواني پوځي اډه کې د پوستکي خاربښت او د توبرکلوز پېښې هم لېدل شوې وې.**




**کډوال په ویتسرفیلد کمپ کې، جولای ۲۰۲۳. انځور: پېکچر الاینز، جو ګېډنز**

**د بې سرحده ډاکټرانو سازمان غړی ډاکټر جاوید عبدالمونیم وایي: «ډېری کډوال له تاوتریخوالي، جګړې، زندان او نورو تروماګانو سره مخامخ شوي دي. دوی ځانګړو درملنو ته اړتیا لري...» د برېټانیا د کورنیو چارو وزارت د فرمان له مخې یاد پنډغالي ته د شکنجې، جنسي تېریو او د نورو فزیکي یا رواني تاوتریخوالیو قربانیانو استول منع دي.**

**دغه اډه له لویو ښارونو څخه لرې موقعیت لري او کډوال پکې د امنیتي پرسونل تر نظارت لاندې دي.**

**د نړۍ ډاکټران دا ځای چې د ۲۰۲۳ په جولای میاشت کې پرانیستل شوی دی «پرانستی زندان» بولي. برېټانوی ګارډین ورځپاڼې په ډېسمبر میاشت کې راپورو ورکړی و چې د کمپ یو شمېر اوسېدونکو د ځان وژنې هڅه کړې ده.**

**دا هم ولولئ**

**<u>برېټانیا: د شاوخوا ۱۰۰ زرو کډوالو دوسیې لا هم بې ځوابه پاتې دي</u>**

**»په معیارونو برابر پنډغالی«**

بل پلو بیا د برېتانیا حکومت ادعا کوي چې د لګښتونو د کمولو لپاره یې کډوال دغه پخوانۍ پوځي اډه کې ځای پر ځای کړي دي. که څه هم مرستندویه سازمانونو په وار وار یاد کمپ کې د ژوندانه پر سختو شرایطو نیوکه کړې او د کمپ ناکافي امکانات یې سخت غندلي دي، خو حکومت بیا له خپلې طرحې څخه دفاع کړې ده.

د کورنیو چارو وزارت یوه ویاند ګاردین ته ویلي دي: «موږ پناه غوښتونکو ته د سرپناه په برابرولو سره خپل حقوقي مکلفیتونه ادا کوو. دا ځای په ټولو روغتیایي او امنیتي معیارونو برابر دی.» خو د کورنیو چارو وزیر جیمز کلیورلي بیا انډیپنډنټ ورځپاڼې ته ویلي دي چې غواړي «په اړین وخت کې» دا کمپ وتړي.

**سړه هوا: کالې ښار کې کډوالو ته بېړنۍ سرپناوې پرانیستل شوې**

مهاجرنیوز



د پا دو کالې قومندانۍ له تېرې شنبې راهیسې د فرانسې په شمالي کالې ښار کې کډوالو ته بېړنۍ سرپناوې پرانیستې دي. دغه سرپناوې هغو کډوالو ته ځانګړې شوې دي چې د ژمي په سړه هوا کې د سړکونو پر غاړه شپې سبا کوي. مرستندویه سازمانونو د حکومت د دې اقدام هرکلی کړی دی .

پرون له غرمې وروسته د د فرانسې په شمالي کالې ښار کې د هوا درجه منفي ۱ ته ټیټه شوې وه. خو د شپې بیا د تودوخې درجه تر منفي ۴ هم رسېږي. د سړې هوا ځپې تر ډېره هغه کسان له ستونزو سره مخامخوي چې د سړکونو پر غاړه شپې سبا کوي.

په تېرو څو ورځو کې د فرانسې حکومت د ژمي د یخې هوا له امله د ناوړه پېښو د مخنیوي لپاره یو شمېر تدابیر نیولي او سرپناه نه لرونکو مهاجرو ته یې بېړنۍ سرپناوې جوړې کړې دي.

**شاوخوا ۱۰۰۰ کډوالو ته سرپناوې**

**د پا دو کالې قومندانی له تېرې شنبې راهیسې کالې ښار کې د کډوالو لپاره دوه مرکزونه پرانیستي دي چې د سازمانونو په خبره شاوخوا ۱۰۰۰ مهاجرو ته پکې ځای ورکړل شوی دی. دغه مراکز به د راتلونکې جمعې تر سهار پورې د کډوالو پر مخ پرانیستي وي.**

**له دې سره هممهاله د فرانسې د مسکن وزارت اعلان کړی چې د بېړنیو سرپناوو مکانیزم ته یې ۱۲۰ میلیونه یورو ځانګړې کړې دي. تمه ده چې دغه مبلغ په فرانسه کې سرپناه نه لرونکو ۱۰ زرو کسانو ته د نوو سرپناوو د پرانیستلو لپاره وکارول شي .**

**د پا دو کالې قومندانی له وا دو نور ورځپاڼې ته ویلي دي چې د کالې په اوت سړک کې پرانیستل شوی مرکز مجردو نارینه و ته ځانګړي شوی دی. دغه قومندانۍ زیاته کړې چې کم سنه کسانو ته هم بېړنی سرپناوې جوړې شوې دي. په وینا یې د کالې د هرکلي او سوق مرکز دنده لري چې د سرپناه په برخه کې د زیان منونکو کسانو (کورنی او ښځې) ستونزو ته رسېدنه وکړي.**

**دا هم ولولئ**

<u>**د پاریس په سړه هوا کې د سرپناه نه لرونکو کډوالو کړاو**</u>

**کډوال سرپناوو ته له تګ ځخه ډډه کوي**

**دا په داسې حال کې ده چې لسګونه کډوال بېړنیو سرپناوو ته له تګ ځخه ډډه کوي .کالې کې د یوتوپیا ۵۶ همغږی کوونکی اکسل ګودینا کډوال نیوز سره خبرو کې وایي: «ځینې مهاجر نور پر دولت اعتماد نه لري او نه غواړي چې حکومت یې ستونزو ته رسېدنه وکړي.» ځینې نور بیا غواړي چې د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د اوښتو لپاره سواحلو ته نږدې واوسي.**

**خو له دې سره سره بیا مرستندویه سازمانونه د چارواکو دغه اقدام ستایي. اکسل ګودینا وایي چې حکومت دا ځل خپل مسولیت ادا کړی دی. د نوموړې په وینا دا ښیي چې «د کډوالو ښه هرکلی ممکن دی او خلک یوازې په سړه هوا کې نه بلکې تل حمایوي اقداماتو ته اړتیا لري«.**

**دغه سازمانونه همداراز وايي چې بېړنی سرپناوې هره ورځ په ۸ نیمو بجو تړل کېږي او کډوال اړ دي چې په سړه هوا کې ترې ووځي.**

**میرویس عزیزی تاجر ملی: ده میلیارد دالر در افغانستان سرمایه‌گذاری می‌کنیم**
آژانس اطلاعاتی باختر




**میرویس عزیزی ، تاجر افغان ، می گوید در پی ده میلیارد دالر سرمایه گذاری در افغانستان است.**

**مالک عزیزی بانک،در سفرش به هرات می‌گوید که در روزهای نزدیک، ده میلیارد دالر در بخش انرژی و راه‌آهن در افغانستان سرمایه‌گذاری می‌کند.**

**عزیزی می‌گوید که فرصت سرمایه‌گذاری در کشور فراهم شده و با راه‌اندازی پروژه‌های کلان، به هزاران جوان فرصت کار فراهم خواهد شد.**

**به گزارش آژانس باختر، میرویس عزیزی رییس بنیاد عزیزی گفت: «من می‌خواهم در روزهای بسیار نزدیک در کشور به ارزش ده میلیارد دالر سرمایه‌گذاری کنیم و این یک سرمایه‌گذاری بسیار بزرگ است.**

**این درحالی است که با روی کار آمدن امارت اسلامی در افغانستان، امنیت کامل برقرار شده و زمینه برای سرمایه گذاری مساعد شده است.**